# شاه شجاع او ببرک

## د تاریخ په تله کې




حالبه مقایسه او عجیب مشابهت

لیکوال: حبیب الله رفیع (۱۳۶۴)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "شاه شجاع" او "ببرک"

# د

# تاریخ په تله کې

## (جالبه مقایسه او عجیب مشابهت)

لیکوال

حبیب الله رفیع

۱۳۶۴/۱۹۸۵

یوسفی بک ایجنسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم :ـــــ شاه شجاع او ببرک شا

لیکوال :ـــــ حبیب الله رفیع

د پښتی طرح : محمد روحانی میمنی

خطاط :ـــــ شاه محمود پتنګ

ناشر :ـــــ امان کتاب

د خپرولو نومره :ـــــ (۱۴)

د چاپ کال :ـــــ ۱۳۶۴ هـ ش
۱۴۰۶ هـ ق
۱۹۸۵ ع

د چاپ شمیر :ـــــ ۵۰۰ ټوکه

بیه : ۶ روپۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترون

د هغو ټولو سپېڅلو شهيدانو

په نوم

چې په دې يوه نيمه پېړۍ کې يې

له انګرېزانو او روسانو سره

مقدس جهاد کړی دی

ح ، رفيع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۶ |
| **لومړی برخه:** | |
| له شاه شجاع نه تر ببرک شاپوري | ۹ |
| **دوهمه برخه:** | |
| د افغانستان د تاریخ دوې پاڼې | ۱۹ |
| لومړی پاڼه: د انګریزانو لومړی تیری او د افغانانو ملي پاڅون | ۲۱ |
| دوهمه پاڼه: د روسانو لومړی تیری او د افغانانو ملي پاڅون | ۳۶ |
| **دریمه برخه:** | |
| د بالاحصار ننداره | ۴۹ |
| ضمیمه | ۵۷ |

د دنیا یامه عظمت ته دي سجدې لګوي

د فرعونیانو د سرونو سلسله دي راځي

# سلسله

له سکندره تر چنګېزه انګرېز او روس پورې

ستا ازموینت ته د سرونو سلسلې دي راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

تاریخ د ملتونو قدنما او حقیقت نما هنداره ده، دا هنداره پېښې ثبتوي او څېرې لکه څنګه چې دي هماغسې ښيي؛ تاریخ څوک بدلولی او غولولی نشي؛ همدا سبب دی چې د تاریخ قضاوت قاطع او پرېکړه دی، نه په چا رحم کوي او نه له چا سره ظلم.

تاریخي ملتونه د خپل تاریخ له کړنو نه درس اخلي، د خپل پرون په غېږه کې د خپل نن پل پوړتیا کوي او د سبا په لور په چټکه او ټاکلې لاره یون کوي.

د افغانستان د تاریخي ملت تاریخ همدا سې یو ژور او له پندونو او درسونو ډک تاریخ دی، د ملت ډېر ښکرور او زورور راغلي ځینې ضعیف النفس او ځان پلوري کسان یې موندلي خو د ټول ملت احیستل یا لاندې کول یې له وس نه وتلي او د افغاني تاریخ د ناموس خلاف وه او ده او په پای کې یې شرمېدلې ماته حتمي وه او ده.

د پردو د تېریو په مقابل کې زموږ د ملت ثابت دریځ زموږ د تاریخ په اوږدو کې ډېرې ورته پېښې زېږولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ډېرو بېلا بېلو تېريو سير او د پيل او پای ټکي يې
سره غوټه کړي دي .

يو له دې مشابهتونو څخه پر افغانستان باندې يو نيم سل کاله
څخوا د انګرېزانو د لومړي تېري داستان او جريان دی چې پر افغانستان
باندې د روسانو له روان تېري سره ډېر ورته والی او مشابه اړخونه
لري ، زموږ په دې رساله کې همدا مشابهت څېړلی او يوه جالبه مقايسه
ترې جوړه شوې ده .

دا اثر درې برخې لري : په لومړۍ برخه کې په نولسمه پېړۍ کې
پر افغانستان باندې د انګرېزانو د لومړي تېري او په شلمه پېړۍ
کې پر افغانستان باندې د روسانو د لومړني تېري يوه لنډه پرتلنه
او مقايسه ده چې يو ځانګړی مطلب دی مقدمه - بحث او نتيجه
لري ؛ په دوهمه برخه کې په هغو دوو تېريو باندې په دوو بحثونو
کې مفصله څېړنه ده چې په دې توګه لومړۍ برخه د دې برخې له پاره
د ننوتځي او مدخل بڼه غوره کوي ؛ درېيمه برخه بيا هم په
هغوی موضوع ليکله شوې او د دې اوږده بحث يوه ادبي نتيجه ګيري
يې بللای شو .

زموږ د تاريخ دا جالبه مقايسه او عجيب مشابهت په دې وخت
کې چې له وحشي روسانو سره زموږ مقدس جهاد په بشپړ قوت
او د لوی خدای جل جلاله په مرسته په بري روان دی ، د لوستونکو مخې
ته ږدو او د تاريخ د تېر مسير په بناء د روسانو په محتومه ماته
حکم کوو او خپلو درنو هيوادوالو او مجاهدينو ته دا وريا دول غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې باید له تاریخ نه درس واخلي او د خپل وحشي دښمن د ماتولو له پاره له مغولانو، چارو، ایثار، فداکارۍ او لوړو پېښو نه کار واخلي چې د دوی پلرونو د انګرېزانو د تېرېو په وخت کې کارترې اخیستی و.

تر دې لنډې یادونې وروسته هو ددې کوچنۍ رسالې لوستلو ته رابولو او د رسوالو د بشپړې ماتې په هیله د اسرېزه سره رانغاړو او په موضوع پیل کوو.

په هینه

ح، رفیع

پېښور، کوزتاکال

۱۳۶۳/۹/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی برخه:

# له «شاه شجاع» نه تر «تیمور شاه» پورې

پنځوس زره انګریزي پوځ ورپسې وه
«شاه شجاع» بریت تاوول سپرد دفاع وه
خو یو لک خراسان ترځه تیرک «تر شا» ته
دا دی ځکه «تیمور شاه» ها «شاه شجاع» وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ نه وايو چې تاريخ تکراريږي خوله دی نه هم بايد سترګې پټې نه کړای شي چې تاريخي هيوادونه د هغو پخوسيندونو تل اوتلوکلار ته ورته دي چې د پېړيو په پوړيوکې روانې اوبه په خپل قالب کې اچوي ، تاريخي پېښې قالب بندي کوي اوخپل ځانګړی اثر وربخښي؛ له دې ډول هيوادو څخه افغانستان يو تاريخي او تاريخ جوړوونکی هيواد دی چې تمدنې له تاريخ سره غبرګې رانښلېدلی او د شروندانه پخوس زړه کلنې نښې نښانې يې په لاس کې دي . دا هيواد د پېړيو په اوږدو کې د راز - راز تيری کوونکو او اشغالګرانو تر يرغل لاندې راغلی دی خو د دې هيواد مسلمانو او ميړنيو زامنو د اتولتيا ښندنه کړې او يرغلګر يې په خپلو وينو لړلي دي .

ليرې نه ځو د موضوع د روښانتيا له پاره پر افغانستان باندې د وخت د لوی ښکيلاکګر قوت انګريز لومړی تجاوز او د دې وخت د لوی يرغلګر قوت روس لومړی تيری سره پرتله کوو ، سره له دې چې د دې دوو تيريو زماني فاصله د يوې نيمې پېړۍ شاوخوا ده خو ورته والی يې ډېر سره زيات او د توجه وړ دی :

انګريزانو په ۱۸۳۹ ع کال کې پوره ۱۴۵ کاله وړاندې له خپل تر پخوس زيات لښکر سره د هيواد له ختيځ او جنوب ختيځ لوري څخه د « شاه شجاع » په نامه د يوه فراري سړي د حمايت په پلمه زموږ په هيواد راننوتل ، د انګريزانو د تيري منطق دا و چې موږ « شاه شجاع » پرخپل موروثي تخت کښېنوو او د حالاتو تر کابو کېدو وروسته به يې ته خپل هيواد ته ستنيږو . دا لښکر په ټولو عصري وسايلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نظامي تجهيزاتو سنبال ئې چې لنډيز يې دا دى:

«د بنګال د ويژن د جنرال کاټن په قوماندانۍ ۹۵۰۰ تنه، د بمبۍ ډويژن د سرجان کين په قوماندانۍ ۵۶۰۰ تنه، د جنرال ډنکن زيرمه شوى لښکر ۴۲۵۰ تنه، د بمبۍ زيرمه شوى لښکر ۳۰۰۰ تنه، د شاه شجاع لښکر ۶۰۰۰ تنه، دده د زوى تيمور شاه لښکر ۴۸۰۰ تنه، د پنجاب د سکهانو مرستي مسلمان لښکر ۶۰۰۰ تنه، د سکهانو قوت الظهر ۱۵۰۰۰ تنه، چې ټول يې ۸۰ توپونه، ۹۴۰ تنه توپچيان او ۵۹۰ تنه مهندسين درلودل، دا ټول عسکر ۵۴۱۵۰ تنو ته رسېدل چې ۱۲۰۰۰ تنه يې د لوازمو کاروونکي او ۳۰۰۰۰ سره يې بار وړونکي اوښان درلودل، هر جنګي انګرېز يو نوکر درلود، هر فيل دوه مهتران او هر لښکر دوه سقاوان درلودل او لس بار وړونکي اوښان؛ هر اس يو مهتر درلود، د هرو شپاړسو تنو عسکرو يو آشپز او د هرو درېو اوښانو يو ساروان ؤ؛ ژرندګري، نانبايان، قصابان، خيمه وهونکي، کسبګر او خرڅوونکي هم پر دې «مجلل» لښکر ور زياتېدل؛ اما انګرېزي افسرانو هر يوه افسر لس اوښان، يوه ګاو ميښي ريړه، پنځه د سپرلۍ آسونه، دوه يابوګان او تقريباً شلويښت تنه کارکوونکي او خدمتګاران درلودل، وروسته انګرېزي ميرمنې هم له يو ښهر ميشتو او هر يوه او تخت روانو سره په زيات تجمل سره د افغانستان ميلمستون ته راننوتلې. د افغانستان پر لارو باندې ددې «مجلل» اردو تېرېدل لکه د ملخانو سيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې وې چې د هېواد په کلیو او ښارونو رالویدل او خوارهٔ، واښه او میوې یې په خپله مخه کې له منځه وړل .» ( افغانستان د مسیر تاریخ ، د ارواښاد غبار تألیف ، ۵۲۳ مخ . ) .

همدا راز روسان په ۱۹۷۹ ع کال کې له خپل سل زرېز مجهز لښکر سره د افغانستان له شمالي او شمال لویدیځ لوري څخه د خپل یوه فراري څېره خور ببرک ترزارمل د حمایت په پلمه زموږ په وطن راتوییې شول ، د روسانو د تیري منطق هم دا و چې موږ ببرک د کابل پرتخت کښېنوو او د وضعي ترآرامه وروسته زموږ لښکر بېرته زموږ هېواد ته ستنیږي ، دې لښکر مکمل عصري تجهیزات درلودل او په دې تیري کې هوایي تېری هم له دې کبله چې په دې یونیم سل کلن زماني واټن کې الوتکه اختراع شوې او پرلختیا یې کړې وه ، شامل و ؛ سره له دې چې د روسي متجاوز لښکر د مهماتو جزئیات تراوسه په لاس کې نشته خو په زرهاوو توپونه او ټانکونه ورسره وو ، په سلهاوو الوتکې ورسره ملې وې او په دې سربېره یې ممنوعه کیمیاوي او زهرلرونکي وسله هم له ځانه سره درلوده او په سلهاوو زره کله شینکوف او وژرونکې وسلې یې افغانستان ته له ځان سره راوړې لې .

د هر لوی توپیر چې په دې دوو تېریو کې موجود و دا و چې شاه شجاع د انګرېز د لښکرو په مخکښ صف کې د کندهار له لارې وطن ته را ننوت خو ببرک ترزارمل په افغانستان کې د روسي عسکرو تر ځای پر ځای کېدلو وروسته د روسي الوتکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټول بکس کې په پټه افغانستان ته را ننه ایستل شو. هغه راز شاه شجاع خپله واکمني(!) په کندهار کې په یوه غونډه کې اعلان او "تاج پوشي" ترسره شوه خو ببرك د مسکو او تاشکند له راډیوګانو څخه خپل ړتلی رژیم اعلان کړ او د بریژنیف په وړاندې یې د هیواد پلورنې مراسم ترسره کړل.

انګریزانو د لاهور د درې اړخیز تړون له مخې چې په ۱۸۳۸ع کال د انګریزانو، رنجیت سنګه او شاه شجاع ترمنځ شوی و، افغانستان اشغال کړ او روسانو د هغه تړون له مخې چې په ۱۹۷۸ع کال یې له خپل بل نوکر "تره کي" سره په مسکو کې لاس لیك کړی و، د افغانستان په اشغال لاس پورې کړ.

افغانانو ته کله چې څرګنده شوه چې د افغانستان واکمن شاه شجاع نه بلکه مکناټن دی او انګریزان د هیواد په ټولو چارو کې لاس لري، نو وسله یې راپورته کړه او په ټول هیواد کې یې په پاڅون لاس پورې کړ، د دې ملي قهر منطقي نتیجه د ۱۸۴۱ع کال د نوامبر د دوهمې نېټې ملي پاڅون و چې د کابل او شا او خوا خلك د ملي مشرانو تر قوماندې لاندې را پاڅېدل، د خپلو لاسو په وسله یې بالاحصار تر اور لاندې ونیو او د هیواد پاکه خاوره یې د دښمن تر پښو لاندې په اور بدله کړه.

هغه راز له هغې ورځې نه چې روسانو د ۱۳۵۷ لمریز کال (۱۹۷۸ع) د غوایي د کودتا له لارې خپل نوکران واکمنې ته ورسول او زموږ پر پاکه خاوره یې غیر مستقیم تېری وکړ او زموږ سیاسي سرنوشت یې تر لاسه کړ. افغانانو د موضوع له درك سره سم ټوپك ته لاس کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

محلي قیامونو ورو - ورو د ملي پاڅون بڼه غوره کړه، عسکري
او ملکي پاڅونونه وشول او د روسانو پر استعماري اداره وژونکې
او درنې ضربې وارد شوې، په ۱۹۷۹ ع کال کې پر افغانستان
باندې د روسیانو د تیري د عمومي انقلاب سبب شو چې ورځ
په ورځ یې لمن پراخه او بري یې د توجه وړ شول او اوس لکه
څرنګه چې د ۱۸۴۱ ع کال د نومبر په دوهمه نیټه چې کابل د مجاهدینو
تر محاصرې لاندې و، دا تاریخي ښار د اسلام او وطن د غازیانو
تر زړورې محاصرې لاندې راغلی دی.

د شاه شجاع په دوره کې هم دولتي اداره او افغاني عسکر
د انګریزانو په خدمت کې وو او اوس هم داسې ده؛ په هغې وخت کې
هم دې خوار ساتل شوي خوځښت او د پیاوړي ایمان په
وسله سنبال ملت خپله تېره توره خپل دښمن ته وښوده او
اوس هم.

هغه وخت هم د شاه شجاع بادارانو، برنس او مکناټن د مجاهدینو
د تېرې تورې له لاسه یو په بل پسې د جهنم لاره ونیوله او
اوس هم د ببرک بادارانو بریژنیف، اندروپوف او چرننکو د مجاهدینو د میړانې
او نه باور کېدونکو بریو له امله زړه چاودي د دوزخ کندې
ته روان شول.

د انګریزانو په تجاوز کې هم هغه ټول انګریزي عسکر چې د
لته بند له لارې نه کابل ته راغلي وو په هغه لاره کې
جهنم ته ولیږل شول او اوس هم هغه روسي عسکر چې د سالنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توپـنـل له لارې کابـل تـه راغلي په همغه لاره کې جهنم تـه لېږل کېږي .

د افغان او انګرېز په لومړی جنګ کې د برنس او مکناټن تر وژل کېدو وروسته د شاه شجاع دوژل کېدو وارهم را ورسېد او اوس هم د بریژنیف او اندروپوف تر نېه چاودي کېدو او جهنم ته تر رسېدو وروسته د ببرک تزارمل د وژل کېدو موقع رالنډه شوې ده .

د شاه شجاع د ډرامې په پای کې بیا هم شاه شجاع د امیرانه وکړه چې د انګرېزانو له هغه قرارداد نه یې غاړه وغړوله چې له ملي مجاهدینو نه یې ژمنه اخېستې وه چې انګرېزان به شاه شجاع له ځان سره بیایي او افغانستان به ده ته په برتانوي خاوره کې معاش ورکوي او په مقابل کې به دوی امیر دوست محمدخان بیرته افغانستان ته را ستنوي خو شاه شجاع د دې تړون په خلاف له انګرېزانو سره تر تلونه په افغانستان کې وژل کېدلو ته ترجیح ورکړه او هدلته د مجاهدینو په لاس د خپلې لویې ګناه په کفاره کې ووژل شو خو له ببرک سره د دا شجاعت هم نشته او چې دا ښ روسان له افغانستان نه پښې سپکولو ته اړ شي نو دی به روسانو ته زاری کوي چې تر ځان وړاندې ماله افغانستان نه وباسئ خو وخت به تر وخت تېر وي او روسان د خپل له ګمنې مغلوبیان په نیمه لاره کې پرېږدي نو بیا به دوی تړې ځي او ببرک به جبراً مجاهدینو ته پرېږدي او بیا به هم د تیښتې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو سره د شاه شجاع په سرنوشت اوري او د مجاهدينو په لاس به د دوزخ کندې ته غورځول کېږي .

په نتيجه کې بايد ووايو چې پر افغانستان باندې د روسانو لومړى تېرى هم هغه لارې يوه نيمه پېړه وړاندې د انګريزانو لومړى تيري وهلى وه ، په څنګ کې لرې او موږ داسې ورځې ته سترګې په لاريو چې ددې دوو تېريو پيل او پاى ټکي په خپل تاريخ کې سره ونښلوو او د راتلونکو تيري کوونکو له پاره يې د عبرت د يوه لوى درس په توګه پرېږدو!

هو! داورځ ډېره لنډه او نژدې ده څکه چې لوى خداى جل جلاله د حق او حق پالونکو ملګرى دى :

لا تر اوسه يې ماغزه په قرار نه دي
چا چې ماسره وهلى سر په سنګ دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه برخه:

# دافغانستان دتاریخ دوې پاڼې

# چې

# دهرې پاڼې یو مخ تور او بل طلایي دی

د انګریز جهاني زور دولت او به شو
په زاریو د تزار نوی لښکر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی پانه

## په ۱۹۳۸ کال پر افغانستان باندې د انګریزانو

## لومړی تېری

## او د ۱۸۴۱ کال د نوامبر په دوهمه نېټه د افغانانو

# ملي پاڅون

په نولسمه پېړۍ کې په افغانستان کې د اقتدار جنګونو او د واکمنۍ کورنۍ، کورنیو شخړو د افغانستان هغه پیاوړې سترواکي (امپراتوري) چې لوی احمدشاه بابا یې بنسټ ایښی و ډېره کمزورې کړه او بې ځواکه کړه او د دې زمینه یې برابره کړه چې د روس او انګرېز ښکېلاک ګرو سترواکو افغانستان د خپل استعماري رقابت صحنه وګرځوي.

انګرېزانو ته د قدرت د وړې شاه شجاع پناه وړ وه لوړ وات حالات داسې وګرځول چې انګرېزان تر روسانو وړاندې شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په لاندې کولو سره د آمو سیند ترڅنډو پورې ځان ورسوي ، د ۱۸۳۸ع کال په جون کې له فراري شاه شجاع سره د لاهور مثلث تړون کول ددې تجاوز عملي پیلامه وه ؛ انګریزانو دیرې اعلامیې په ترڅ کې امیر دوست محمد خان په دې تومتې کړ چې ګویا د روس په مرسته له افغانستان سره د « پېښور » بیا تړل غواړي ، دوی په دې اعلامیه کې « بارکزی » سردارا ن د حکومت « غاصبین » وبلل او د افغانستان واکمني یې د « سدوزیو » « قانوني حق » بلله ، د « بارکزو » په وخت کې یې د افغانستان وضعه « ګډه وډه » وښوده او په اعلامیه کې یې زیاته کړه چې د اکډوډې هغه وخت له منځه ځي چې شاه شجاع د انګریز په پوځي مرسته بېرته په خپل « موروثي تخت » کښېنول شي او په دې توګه به د برتانوي هند « تمامیت » تأمین او د افغانستان د ملت « اتحاد » به ټینګ شي .

د همدې منطق په بناء انګریزان پر افغانستان باندې د تېرې په تیارې بوخت شول ، د سفربرۍ امرې وکړ ، د شاه شجاع په لاسلیک یې په افغانستان کې زیات شمېر ابلاغیې نشر کړې چې پکې ویل شوي وو ؛ د افغانستان د سلطنت حقیقي او شرعي وارث ، « اعلیحضرت شاه شجاع د غازي احمد شاه بابا « لمسی » د او محمد زایي ورونه د تاج او تخت غاصبان دي نو دادی د افغانستان « اصلي پاچا » له « خپل لښکر » سره د خپل پلرني تخت د نیولو په نیت خوځېدلی دی او د هندوستان د انګریزي حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکرې چې دی یې دروند میلمه ؤ دده په ملتیا کې ورسره روانې دي څو په خپل پلرنې تخت بأندې دده «جلوس» وویني او «مبارکي» ورکړي بیا به دا دوست لښکر بېرته له افغانستان نه ووزي او هندوستان ته به راغبرګ شي .

له شاه شجاع سره دا روان «مبارکي ویونکي» «دوست» لښکر چې ټول شمېر یې شل زره پنځوس نفره یو سل او پنځوس تنه کېده او اویا توپونه او د وخت مدرنه او قوي وسله ورسره وه ، له بشپړو تجهیزاتو سره را روان شو ، پتیل شوې وه چې دا «محدودې قواوې» د خیبر له لارې ننګرهار او د سیند او بلوچستان له لارې کندهار ته ننوزي . د سیند له خوا راروانې قواوې د ۱۸۳۹ ع کال د جنورۍ په شلمه نېټه د سند د سیند شغړو ته را ورسېدې ، په فبرورۍ کې تر سیند راپورې وتې او په ښکارپور کې له شاه شجاع سره یو ځای شوې ، په افغانستان کې د انګرېزانو اصلي پاچا مکناټن چې ظاهراً د انګرېز د سفیر په توګه ؤ ، ورسره ؤ .

د خیبر له لارې را روانې قواوې هم یوازې نه وې د شاه-شجاع زوی شهزاده تیمور ورسره ؤ چې په ډېر «اعزاز» یې را روان کړی ؤ .

انګرېزانو په خپل دې پروګرام کې هڅه درلوده داسې وښیي چې شاه شجاع د افغانستان «خپلواک» پاچا دی او ورسره راغلي انګرېزي لښکرې تر فرمان لاندې او څو ورځني میلمانه دي . له همدې امله دوی په کندهار کې د شاه شجاع د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج پوشۍ په وخت انګریزي عسکر په داسې ډول د شاه شجاع په مخه کې تېر کړل چې انګریزي بیرغونه یې د « احترام » په توګه ځوړند کړي وو او کله چې دی پر تخت کښېناست دده په درناوي کې یې د توپونو (۱۰۱) ډزې وکړې، بیا نو د انګریزي لښکرو قوماندان جنرال کین او په افغانستان کې د انګرېز سفیر «مکناټن د پاچا «حضور» ته ورواندې شول او د انګرېز د حکومت په نمایندګۍ یې مبارکه ورکړه، په ختیځ افغانستان کې یې هم داسې وکړل، شهزاده تیمور یې چې زربفتې جامې یې اغوستې وې په ورېښمین مسند کښېناوه، د ولیعهد تاج ته مأمورین او عسکر د « احترام » په ډول ودرېدل او انګریزي افسرانو مبارکه ورکړه، دا د انګرېزانو د ځانوزد پردې مخه او روپوش و ؛ ددې تر شا یې جواسیس خواره کړل، پیسې او آوازې یې خپرې کړې، د کابل د پاچا امیر دوست محمد خان د واکمنۍ د نامشروعې په سر خبره کې یې د خلکو ذهنونه « تنویرول » غوښتل، مشران او مخور خانان او نور لروسکي کسان یې په شاه شجاع راټولول، څوک چې په پیسو او دسیسو وغولېدل راټول او چا چې مقاومت کاوه له منځه یې وړل.

انګرېزان په داسې حال کې چې شاه شجاع یې په مخه کې را روان و د ۱۸۳۹ ع کال د اپریل په ۲۵ مه نېټه کندهار ته ننوتل او د حکومتي قواوو له جزوي مقاومت نه وروسته یې کندهار تسخیر کړ، د مې په اتمه نېټه یې د شاه شجاع تاجپوشي ترسره کړه او نږدې یوه ورځ څخوالي د افغانستان پردې خودمختار (۱) پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو او فقره این تړون لاسلیک کړ چې په هغه کې منل شوي وه ، انګریزي مېلمانه عسکر به د تل د پاره په افغانستان کې پاتې او لګښت به یې د افغانستان له خوا ورکول کېږي ، افغانستان به له بل یوه اروپایي هېواد سره هم روابط نه لري او تجارتي چارې به یې هم د انګریزي دولت د ایلچي په خوښه ترسره کېږي .

پرنګیانو له خپل لا ولاړ کړي پاچا سره په کندهار کې تر دوو میاشتو تېرولو وروسته د کابل په لور د راتلو اراده وکړه ، په کلات کې غلجیو خوړېدلي ورې حملې پرې وکړې او کله چې غزني ته راغلل له تېرلیو دروازو سره مخامخ شول ؛ غلجیو شا له خوا پرې راووړه ، دوی سنګرونه جوړول او لا برېدې ته وکړې . خوشاه شجاع په بېړه د انګریز قواوې ور واستولې او غافلګیرې کړل ، غلجي غازیان یو برخه شهیدان او یوه برخه یې اسیر شول چې دا اسیران هم د انګریزانو د کمپ په مخه کې د قربانۍ د پسونو غوندې حلال او شهیدان شول ، انګریزانو غوښتل د ه وحشت له لارې افغانان وویروي چې « تسلیم » شي او له جهاد نه لاس واخلي . له انګریزانو سره د غزني ښار د ټینګې کلا د تسخیر توان نه ؤ ، سردار غلام حیدر خان بشپړ نظامي ترتیبات نیولي وو خو دوی له یوه بل سردار عبدالرشید نومي نه استفاده وکړه ، د هغه د خیانت له امله یې د غزني ښار کابلي دروازه د شپې له خوا الوزوله ، انګریزي قواوې کلا ته ننوتلې ، په ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نته کوڅه په کوڅه د لاس او ګریوان جنګ پیل شو تر
دوولس سوو زیات کسان شهیدان شول، جنګي بندیان
یې شاه شجاع ته ورووستل څوله ځاځ کېدو سره یوه بندي پرې غږ
کړ: «د پرنګي نوکره!» او له دې سره ټول بندیان حلال کړای
شول.

امیر دوست محمد خان په ارغندي کې له خپلو عسکرو سره ناست
وو او د «څه به کېږي؟» انتظار یې یوست، کله چې په غزني کې
د انګریزانو له وحشت نه خبر شو په ډېر تلوالیتوب یې عسکر
پرېښودل او داوونه د کوتل له لارې د بامیان او خلم په لور روان
شو او «ترپ» ته یې په «خرپ» ترجیح ورکړه، کابل یې واکمنه(۱) شو
او انګریزان له خپل راوستلي ټولواک (؟) سره په کابل ننوتل او د
بالاحصار په ارګ کې یې په بشپړه خاطرجمعۍ واړول. د کابل
خلکو لاس پوڅي پاچا ته په کرکه، نفرت او حیرت کتل او انګریزانو
هم چې ځان پر افغانستان «مسلط» ګڼلی وو نو یې د شاه شجاع ــ
ظاهري نازول او پاچا ــ پاچا کول هم پرېښودل او په ډېره بې
اعتنایۍ یې مستقیماً په حکمروایۍ لاس پورې کړ او مکناټن نور
په افغانستان کې «سفیر» نه بلکه «ټولواکمن» وو.

انګریزانو په افغانستان کې د خپلې دایمي استوګنې
په غرض په نظامي تأسیساتو او د قشلو په جوړولو لاس پورې کړ
او یو شمېر اضافي قواوې یې په دې نامه چې هو ن عملاً له افغانستان
څخه ونو بېرته ولېږلې او د خپل واک او ځواک په استحکام یې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوري کړي .

له بلې خوا افغانانو د خپل خصلت له مخې خپل دښمن په خپل کور کې نشوی لیدلی ، د هېواد په کوټ - کوټ کې ګنګوسې وې ، د تېښکار تیاری نیول کېده او د پاڅون ، د ملي غورځنګ او د ملي یون .

د دې لوی قیام لومړنۍ خښتې هماغه وارې ځلي او خوارو واره پرغلونه وو چې د کندهار - کابل پر لاره پر شاه شجاع او دده پر دوستو لښکر د کلات غلجیو پیل کړل ، په غزني کې خلکو میړني تېښکار او مقابله وکړه او کله چې شاه شجاع (!) او دده باداران په کابل کې استوګن شول د زرملي خلک پاڅېدل چې په وحشت سره وځپل شول ، بیا چې خپلواک (!) پاچا ننګرهار ته یو نمایشي سفر کاوه د کونړ خلکو د پاچا او دده د دوستانو پر ضد پاڅون وکړ چې د توپونو په خوله غلي کړای شو ، ور پسې جبار خېل پاڅېدل خو انګرېزانو په بېړه هر پاڅون ځای په ځای غلی کاوه دا پاڅون یې هم غلی کړ ، افغانان ددی پر ځای چې دا « وحشت » یې ووېروي نور هم جري او زړور شول ، خوګیانو دې بېګانه دولت تر ډالي له ورکولو نه سر وغړاوه او د حصارک غلجی یو ځل بیا پاڅېدل او د کابل - ننګرهار لاره یې تر تهدید لاندې ونیوله ، دا د ۱۸۳۹ ع کال خواره واره قیامونه وو ، د دې قیامونو نتیجه دا هم وه چې شاه شجاع (!) خپل ځان وپېژاند او پوه شو چې زه « څوک » یم ؟ له هغه ځایه هدېنو سره یې د تماس هڅه وکړه خو د انګرېز تر بشپړه څارنه لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ؤ او فرمانونه یې د انګرېزانو لاسونو ته ولوېدل او یله نتیجه یې داوه چې په ۱۹۴۰ع کال کې د دې قیامونو لمن ډېره خوره شوه، د حصارک د غلجیو جبهه پیاوړې پاتې شوه او په خوړد کابل کې یې دیوه برید په ترڅ کې د انګرېزانو لویه قوه تس نس کړه، همدا وخت د کوهستان او نجراو خلک هم راولاړ شول او د جهاد ملاوې یې وتړلې، د کندهار خلک هم پاڅېدل او انګرېزي فرماندار یې وواژه .

هلته امیردوست محمدخان بخارا ته تر تېښتې وروسته بېرته شمالي ولایاتو ته راغبرګ شو او خلکو په مېړانه ملاتړ ورسره وکړ، له کندز نه له پنځه زره لښکر سره بلخ ته روان شو، له خلم نه هم پنځه زره لښکر ورغی، لښکر یې له انګرېزانو نه ماته وخوړه خو پاچا د کوهستان او کاپیسا د مجاهدینو په بلنه شمالي ته راغی د لته نور و مجاهدینو د ملی رهبر (!) په توګه ومانه او له انګرېز سره بریالی جنګ روان ؤ، انګرېزانو په جنګ کې شرمېدلې ماته وخوړه خو پاچا یو ناڅاپي د جنګ له مېدانه ورک شو، له خپل باوري دوست سلطان محمدخان سره د کابل په لور روان شو، د ۱۸۴۰ع کال د نومبر په څلورمه نېټه کابل ته ورسېد، ماز دیګر مهال ؤ، مکناټن له ښکار نه ارګ ته روان ؤ چې د پاچا ملګری سلطان محمدخان ورغی او ورته وې ویل : « امیردوست محمدخان راورسېد ! » مکناټن په وارخطایي وپوښتل « له لښکر سره ؟ » ده ویل : نه ! « امیر ورورانډې شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکناټن ته ورغاړه ووت او قصر ته له ننوتلو وروسته یې
خپله توره مکناټن ته تسلیم کړه چې بیا تر معاهدو او مفاهمو
وروسته هند ته واستول شو ؛ د شمالي مجاهدینو د پاچا په ناڅاپي
ورکېدو پریشانه وو خو کله چې خبر شول : پاچا له کتلي میدان
نه د دښمن ته تېښته ور وکړه ډېر حیران شول خو پریشان نه شول
ځکه چې د دښمن ماتول او د خپل هېواد آزادي ګټل یې خپل اسلامي
او ملي فرض باله ؛ دوی لکه زخمي زمري په خپل ټول قوت د دښمن
په عسکري قشله ور توی شول ، زیات شمېر یې د دوزخ مېلمانه کړل
او پاتې تري وتښتېدل ، هغه وخت په هلمند کې هم د جهاد یوه لویه
جبهه جوړه شوه او په ننګرهار کې سنګوخېل پاڅېدل چې په دې
دول په ۱۸۴۰ ع کال کې د جهاد لمن ډېره خوره شوه او د افغانستان
په هره برخه کې جبهې جوړې شوې .

د ۱۸۴۱ ع کال ژمی له وړو - وړو قیامونو سره په آرامۍ
تېر شو خو په اپریل کې یې بیا قیامونه ګړندي او پیاوړي شول،
له یوې خوا د جهاد حلقه لویېدله او په ټول افغانستان کې خورېدله
او له بله پلوه د مرکز (کابل) په لور د احلقه د تنګېدو په حال کې وه
او د انګریزانو د تنفس لارې یې بندولې ؛ د کلات غلجیو په اپریل
کې یوځل بیا په انګریزي قواؤ بریالۍ حمله وکړه ، په جون کې د
کندهار علیزي پاڅېدل ؛ انګریزانو په مجاهدینو کې د نفاق اچولو
له پاره کسان واستول خو بریالي نه شول . په هلمند کې له دښمن سره
خونړۍ جنګونه پیل شول ، د غزني خلکو په جولای کې د کابل-

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهار لاره بنده کړه او د انګرېزانو يوه لويه قوه يې چې کندهار ته تلونکې وه ، تس نس کړه ؛ د دسمبر په مياشت کې په کردېز کې د زاوې خلکو يو بريالى پاڅون وکړ ، په ۱ اکتوبر کې د کوهستان او حصارک مجاهدينو په ګډه سره له کوهستان او تېزين نه تر بتخاک پورې دا ټوله سيمه انګرېزانو ته د اور په تېږه بدله کړه ، د انګرېز ورلېږل شوې قواوې يې وار په وار له منځه يوورې او د کابل په لوري را ګډ شول ، د اکتوبر په ۳۰ مه نېټه په ښار کې د سياه سنګ په عسکري چوڼۍ مجاهدين لاس بری شول او نور مجاهدين په ښار کې د دښمن د يوه عمومي پاڅون په لټه کې وو؛ تر اوسه د جهاد مشران په خپل - خپل ځاى کې په جهاد بوخت وو، واحده رهبري او د جهاد د لار ښودنې له پاره يې قبلي مفاهمه نه درلوده ، مجاهدينو ددې خلا د ډکولو له پاره هم کار وکړ ، د ۱۸۴۱ع کال د نوامبر په لومړۍ شپه د مجاهدينو مشران د عاشقانو عارفانو سره لګه په باغ نواب کې په يوه کور کې سره راغونډ شول ؛ امين الله خان لوګرى ، عبدالله خان اڅکزى او نور د جهاد مشران د عمومي پاڅون د طرحې په جوړولو وغږېدل؛ د جنګ قوماندان ، نائب او يوه انقلابي شورى يې جوړه کړه ، د دښمن مکتوبونه يې ضبط او مخابرې يې تر کنترول لاندې راوستې او په لوړ تدبير يې د قيام د بريالي کېدلو ټولې خواوې وسنجولې او بيا يې نوې پرېکړه وکړه چې سبا به د نومبر په دوهمه نېټه ( چې د عقرب له ۱۰ سره سمون خوري ) ملي عمومي پاڅون کېږي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پاك قرآن سوګند واخیست شو او سبا لمانځه مل عمومي قیام په ټولو جوماتونو کې اعلان او له لمانځه او دعا وروسته پیل شو ، د کابل ښار ټول د کانونه وتړل شول د « الله اکبر » ملکوتي غږونو د کابل ټوله فضا ونیوله . مجاهدین په خرابات کې د برنس په کور ورغلل ، د ده د پیسو او رشوت وعدې ورکړې خو مجاهدین پرې ونه تېر شول ، په کوډیو او ورپورې کړ او څوشیبې وروسته یې ککرۍ د کابل په څوک کې ځړول شوې وه ، په ښار کې د انګریزانو ټولو کورونو ته اور ورته شو ، مکناټن د بي بي مهرو قشلې ته وتښتېد ، له بالاحصار نه د انګریزانو یو کټک مجهز عسکر ښار ته راووتل ، څو له یاغیانو نه په ډبرو ویشتل ، اېښېدلې او بیایې پرې راتویولې او سنجونه یې پرې راغورځول او کله چې د مجاهدینو صفونو ته راورسېدل د لاس او ګرېوان په جنګ کې دا اوه سوه کسه د پښتنو غونډې حلال او د دوزخ مېلمانه شول ، شاه شجاع خپل زوی تیمور د خلکو آرا مولو له پاره راولیږه خو ده چې وضعه ولیده مجاهدینو یې د دښمن په مقابل کې تشجیع کړل او ځان ته یې نجات ورکړ .

انګریزانو کابل ښار له بالاحصار نه د توپونو تر اور لاندې ونیو ، خو د دې توپونو د ډزو د غږېدلو او پاشېدلو خلکو احساسات نور هم توپاني کړل ، دا وخت د شاه شجاع د دربار افغاني کارکوونکو هم د جهاد صفونو ته راودانګل او دې یې یوازې پرېښود ، ۷۵۰ تنه ښځې هم له کورونو نه راووتلې او د مجاهدینو په صف ورګډې شوې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګرېزان د بي بي مهرو او نورو عسکري قشلو ته راغونډ شول او هلته يې دفاعي جنګ غوره کړ، د قيام مشران د جهاد او عملي جنګ مشران هم وو او دښمن ته د ننګ په ډګر ولاړ .

د نومبر په دريمه نېټه د انګرېزانو دفاعي کلاوې هم يخ نه شوې او مجاهدين ترې تاو راتاو شول او د اوخت د کوهدامن ، کوهستان ، غلجيو ، لوګر ، ميدان ، وردګو او ننګرهار ته د نورو لښکرو سيمو مجاهدين هم راورسېدلي او د کابل له مجاهدينو سره يو ځای شوي وو؛ د نومبر په شلورمه نېټه د انګرېزانو د غلې لوی ګودام او زياتې جنګي کلاوې مجاهدينو لاندې کړې او د نوامبر تر اوومې نېټې پورې انګرېزانو ته يوازې بالاحصار او د بي بي مهرو لوړه جنګي کلا ورپاتې وه .

انګرېزانو د جلال آباد يا کندهار له لارې د انګرېز د امدادي پوځ د راتلو انتظار درلود خو دا پوځونه هم مجاهدينو د کابل - ننګرهار او کابل - کندهار په لارو کې له منځه وړي وو. انګرېزانو په جنګ سربېره له دسيسو او پيسو نه هم کار واخيست او د جهاد لوی مشر غازي عبد الله خان اڅکزی د همدې خيانت ښکار شو او عبد العزيز نومي د شاه له خوا حمله پرې وکړه چې د نوامبر په ۲۹ نېټه داسې وخت چې د مجاهدينو مورال د تقويې له پاره په زخمي حالت کې له کوره راووتلی او په آس سپور و شهيد شو؛ مير مسجدي خان مسموم کړای شو چې د نومبر په ۲۶ مه نېټه شهيد شو خو جهاد غلی نشو او د نوامبر په ۲۵م او ۲۸ مه نېټه سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد اکبرخان او محمد شاه خان غلجي د جهاد په مشرانو ور زیات شول او دا خلا یې ډکه کړه.

انګرېزان مجبور وو او د دسمبر په میاشت کې چې له هرې خوا نا امیده شوي وو سولې ته حاضر شول او د سولې د تړون یوه مسوده یې ملي مشرانو ته واستوله څو هغوی یې مقابلتاً مسوده تیاره کړه چې له افغانستان نه یې د انګرېزانو بې له قید او شرط وتل، افغانانو ته د درنې وسلې پرېښودل، بیا د افغانستان په لور د تګ له پاره کابو نه کنټرول یې مهم ټکي وو؛ مکناټن د دسمبر په یوولسمه دا مسوده له ملي مشرانو سره لاسلیک کړه، مکناټن ډېر ژر له شوي تړون نه غاړه غړول غوښتل او د دسیسو له لارې یې نوي ارتباطونه ټینګول او د ملي مشرانو تر منځ یې درز اچول غوښتل چې دوی بیا په پټه کې په ډېر صمیمیت د انګرېزانو د دسیسې سره افشا کړلې او د همدې منافقت نتیجه وه چې مکناټن هم سر پکې وخوړ او د دسمبر په ۲۳ نېټه د مجاهدینو تر تېغ تېر شو.

انګرېزانو سره له دې چې له کابل نه د وتو تړون لاسلیک کړی و خو بیا یې هم زړه ته نه لوېده چې یوه لویه استعماري امپراتوري دې د یوه وړه ملت له لاسه داسې شرمېدلې ماته وخوري نو د نوو قواوو د رارسېدو له پاره تمه یې په وتلو کې ځنډ کاوه خو مجاهدینو فشار پورې اچولی و چې ډېر ژر باید ووزي، د انګرېزي امپراتورۍ حیثیت نور د خوندي کېدو نه و د ۱۸۴۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال د جنوری په ۶ مه نیټه د کابل تخلیه پیل شوه، په سره ژمي کې سره انګریزان په بد حال په وتلو شول، دسمبر له لمر ختو سره یې د کابل له قشلې نه په وتلو پیل وکړ او ترلمر لوېدو پورې یې قشله تخلیه کړه، مجاهدینو د وی تر وتلو وروسته قشلې ته اور واچاوه او د سرو لمبو په رڼا کې تر ډېره ځایه د وی ځان ته لاره تاکله؛ انګریزانو بیا هم تمه درلوده چې د ننګرهار نه به انګریزي قواوې ملاتړ وکړي او ماته به یې په بري بدله شي، مجاهدین پوه شول، د ورځې به یې د تړون په اساس د انګریزانو ساتنه او څارنه کوله خو د شپې به له خورد کابل نه تر جګدلک پورې محلي افغانانو برغلونه پرې کول او د دښمن عسکر به یې له منځه وړل، د جنوری تر ۱۳ مې نیټې پورې چې انګریزان د جګدلک له غاښي اوښتل د انګریزانو له اوولس زره لښکر نه یوازې ډاکټر برایډن ژوندی پاتې ؤ چې ننګرهار ته یې د انګریزي پوځ د تباهۍ خبر ورسولای شو.

په دې ډول هغې لوی امپراتورۍ له یوه واړه او بې پاچا ملت نه تاریخي او نه هېرېدونکې ماته وخوړه او ځکه ؤ چې په ټوله نړۍ کې یې ماته شروع شوه او یو وخت داسې هم راغی چې د الوی استعماري ښامار زموږ له کاونډ نه هم وتښتول شو او په زرهاؤ میله له موږ نه لرې ولاړ او د امستعمرې یې له کومې څخه ووتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقدیر داسې پېښه کړه چې د افغانستان بل همسایه استعماري قوت ته هم د تېري وار ورسید، د ۱۹۷۸- او- ۱۹۷۹ ع کلونو په اپریل او دسمبر کې یې پر افغانستان دوه پرلهپسې تېري وکړه. پر افغانستان باندې د انګرېز لومړی تېری او د روس لومړی تېری د زمانې په لحاظ څه کم یو نیمه پېړۍ فاصله لري خو د پېښو تسلسل یې تر ډېره ځایه سره ورته دی او د تاریخ د تکرار بېلګه یې غوره کړې ده نو څکه موږ د انګرېز د لومړي تجاوز پایله هم دلته رانغاړو او د موضوع د بشپړتیا په لړ کې د روسانو د لومړي تېري پایله را اړوو او په تېریو کې یې مطالعه کوو.

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه پانه

## په ۷۹ - ۱۹۷۸ ع کلونو کې پر افغانستان باندې د روسانو دوه پړاوېز تېري او د افغانانو ملي پاڅون

---

په شلمه پېړۍ کې د کورنیو شخړو، اغتشاشونو او د واکمنې کورنۍ د اقتدار د قابتونو د افغانستان هغه ځوانه خپلواکي چې د لوی خدای جل جلاله په مرسته، د اعلیحضرت امان الله خان په اراده او د ملت په همت تر لاسه شوې وه له خپل اصلي مسیر نه وایستله، افغانستان یې د یو لوی بل محتاج کړ، د اقتصادي او فرهنګي بنګېلاک لاسونه له هرې خوا را وتړل شول، ځوانه خپلواکي تش په نوم پاتې شوه او د دې زمینه یې برابره کړه چې افغانستان د شرقي بنګېلاک کوپي ته ور تېل وهل شي.

دا وخت د هند او پاکستان په آزادېدلو او جوړېدلو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګرېز زمونږ له کاونده نه تللي ؤ او هم د عربي استعمار ځکښي د امریکا په لاس کې وه ؛ امریکا له روس سره د نړۍ د ویش (۱) په طرح کې افغانستان د خپلو ګټو له ساحې څخه ایستلي ؤ او له بلې خوا د روسانو سوره او خونړي بنکېلاک زمونږ په یوله ولاړ ؤ ، له غیر ملي حکومتونو سره یې د دوستۍ په جامه کې ترونونه کول ، د اقتصادي ، فرهنګي او نظامي بېلا بېلو تشبثاتو له لارې یې په افغانستان کې ځان ټینګاوه ، له یوې خوا یې زموږ عسکري ته لاره وکړه او له بله پلوه یې په ۱۳۴۳ش/ ۱۹۶۵ع کې د « خلق » د باند په جوړولو سره زمونږ په هیواد کې یوه پخه سیاسي اډه جوړه کړه ، که څه هم د « خلق » باند له ملت نه تجرید ؤ خو د روس په مالي او عملي سپورت یې تادا ؤ پورخ شو ، او د بې تجربې ځوانانو په مغزونو کې یې ریښې وزغلولې لکه څرنګه چې د بنکېلاک قانون دی په یوه اساتکیه نه کوي ځکه کېدی شي چې ورسته شي او اتکاء یې له منځه ولاړه شي او هم بنکېلاک په یوه هیواد کې دوې رقیبې ډلې یا کسان ساتي څو د واړه په رقابت سره یو تر بل بنې غلامۍ ته حاضر شي او هم د قدرت په وخت کې یو په تخت کېنوي او بل له ځان سره د ذخیره وساتي او که پر تخت ناست غلام غاښ غړوله او یا یې صادقاً غلامي نه کوله نو په دې ذخیره غلام یې د فشار د قوې په حیث وویروي او یا یې هم مستقیماً پر ځای کېنوي . دا کار په نولسمه پېړۍ کې انګرېزانو هم کړی ؤ ، د امیر دوست محمد خان د واکمنۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې شاه شجاع د انګریزانو په غېږ کې ؤ او بیا چې کله شاه شجاع پر تخت کښېنول شو نو امیر دوست محمد خان یې په غوږ کې ورته کښېنولی ؤ. روسانو هم د یو هدف له پاره په ۱۳۴۵ / ۱۹۶۶ع کال د خلق ګوند په دوو برخو «خلق» او «پرچم» وویشه، د پرچم پالیسي یې داسې وټاکله چې له حکومت سره هم لاره ولري، بلکه په لویه کې خوا ظاهر شاه ته هم ترقي پاچا وایه او له بلې خوا یې خپل ګوند له محمد داود سره لنډ کړ او د هغه تر بشپړ حمایت لاندې راغی، سردار داود د ۱۳۵۲ ش ۱۹۷۳ع کال کودتا د همدوی په ملاتړ وکړه او پرچمیان د وزارتونو پر څوکیو کښېناستل او خصوصاً د کورنیو چارو د وزارت له خوا اولسوالیو په سلو کې نوي څوکۍ همدې پرچمیانو ته وسپارلی شوې، پرچمیانو د رشوت اخیستلو او نورو فجایعو له لارې د سردار داود حکومت ډېر بدنام او د خلکو نفرت یې ترې پیدا کړ، دا د روسانو له خوا ور سپارل شوی پروګرام ؤ؛ داود ډېر ژر له خلکو نه تجرید او د عام نفرت ور شو څو کله چې داود په ځان پوه شو او غوښتل یې چې له دې دام نه ځان راخلاصه کړي، روس د خپلو ذخیره ایجنټانو په وسیله په بېړنۍ او عاجل ډول د خلق او پرچم ګوند ونه سره یو ځای کړل او د دواړو د ګډ عمل له لارې یې د یوې خونړۍ کودتا طرح وکړه، روس په دې لوبه کې د پردې تر شا هر څه مهیا او چمتو کړل او د پردې پر مخ د ۱۳۵۷ کال د ثور په اوومه نېټه (د ۱۹۷۸ع کال اپریل) خلقیانو او پرچمیانو خونړۍ کودتا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل کړه او څرنګه چې له یوې خوا د سردار داؤد حکومت له خلکو نه تجرید و، له بلې خوا یې ایډیالوژي او بې خاصیته و، له بله پلوه مهمې چارې د بې کفایته کسانو په لاس کېښې وې او له بلې خوا داؤد ډېر مغرور او په ځان غاوره و؛ په یوه ورځ کې پرې بریالي شول او په دې وسیله روسانو پر افغانستان باندې په ۱۹۷۸ع کال کې خونړۍ خو غیرمستقیم تېری وکړ.

روسانو پر افغانستان باندې د دې په زور ورتپل شوي حکومت ترکیب په داسې ډول راځرګند کړ چې د قدرت ټوله د خلقیانو لورته ورغه کړي او د خپل استعماري پلان له مخې پرچمیان د اقتدار جنګ ته ورباسي؛ برک له دې وېش نه ناراضه شو او یوځل بیا یې له خلقیانو سره زړه د بېمې راتوې کړه او د روسانو ترسره شوي هدف له پاره شوی اتحاد ګډوډ شو؛ په همدې حالت کې روسانو ببرک له افغانستان څخه د سفیر په جامه کې وویست او د سفارت ترڅوا غلا وروسته یې په خپل څنګ کې کېښناوه، دا د روس له پاره خلقیانو ته د فشار ډېره ښه قوه وه، که تره کی او امین به د ښې غلامۍ رول نه لوباوه نو بریژنیف به د ببرک سر له ګریوانه وړته راوېیوست او دوی به یې د رقابت په دنیا کې هر ډول غلامۍ او لکه وهلو ته اړ کړل. خلقیانو د روس له قوماندې سره سم بې سارې وحشت وکړ، قتل عامونه یې وکړل، په لسهاؤ زره بې ګناه افغانان یې ووژل، کلي او ښارونه یې ورانکړل او په نتیجه کې خلکو ملي پاڅون پرې وکړ او په څو میاشتو کې د خلقیانو تر نیمایي زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکر او منصبداران مره ، د خلقیانو حزبي غړي مردار او د هېواد زیاتې برخې آزادې شوې د اوخت له یوې خوا خلقیان د سقوط په پوله ولاړ وو ، له بلې خوا به د امین خودخواهي کله ـ کله د بې اجازې غیلو له پاره دی هڅاوه او له بل لوري د خلق د غلامۍ دوره سرته رسېدلې او د لاس پا کولو دا دسمال نور زوړ شوی و .

د پېښو په نتیجه کې د شاه شجاعي تاریخ بیا تکرار را رسېدلی و ، روسانو له فراري ببرک ( کیډړې ) سره افغانستان ته د روسي لښکرو د رانتوتلو قرارداد وکړ ، پروګرام داسې و چې روسان به د انګریزانو په خلاف له ببرک نه وړاندې افغانستان ته ننوزي ، امین خاین به را نسکوروي ، عسکري قشلې به ونیسي ، راډیو به لاندې کوي او بیا به نو ببرک د روسیې له راډیو نه خپل حکومت اعلانوي په هغه حال کې به د روسیې د راډیو موجونه د افغانستان له راډیو سره یو ځای کېږي او داسې به ښودله کېږي چې ګویا ببرک د افغانستان له راډیو نه غږیږي خو دا نقشه هم خدای رسوا کوله ، روسان د ترمکې او هوا له لارې افغانستان ته را ننوتل ، امین یې مردار کړ خو عسکري قشلې یې لا بشپړې نه وې نیولې او د افغانستان راډیو لا عادي خپرونې کولې او امین د واکمنۍ خبرونه یې نشرول ؛ په هغه وخت کې ببرک له تاکل شوي پروګرام سره سم د مسکو او تاشکند له راډیو ګانو نه خپله وینا نشر کړه ، امین یې نسکور شوی وباله او ځان یې د انقلابي شورا (!) او د دولت مشر (!) اعلان کړ خو په هغه دقیقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان راډیو د امین د حکومت خبرې کولې او د روسانو دا پلان هم رسوا شو.

هو! د ثور تر خونړۍ کودتا وروسته چې هوښ یې د روسانو غیر مستقیم تېری کېنو، روسانو د ۱۳۵۸ ش ( ۱۹۷۹ ع ) کال د جدي په شپږمه نېټه پر افغانستان باندې مستقیم، بربنډ او له ټولو قوانینو او موازینو نه خلاف تېری وکړ، د دوی تر سل زرو زیاتې لښکرې پر افغانستان را واوښتې او له شاه شجاع ثاني شاه شجاع ببرک تزار مل پسې راروان ؤ.

روسانو هم لکه انګرېزانو چې امیر دوست محمد خان له روس سره په مرسته تومتی کړی ؤ، امین له امریکا سره په مرسته تومتی کړ؛ دی یې د «سی، آی، اې» ایجنټ وګاڼه او زیاته یې کړه چې که روسان افغانستان ته نه وی راغلی نو امین به افغانستان امریکایانو ته حواله کړی ؤ(!؟) او برېژنیف خو واضح وویل چې: «دا تجاوز وقایوی تجاوز دی او موږ افغانستان ځکه نیولی چې روسیې ته د امریکې له خوا خطر متوجه ؤ»؛ روسانو د خپل بې شرمانه تېري له پاره یو بل پرتوګ هم وراغوست او هغه دا چې موږ د افغانستان د قانوني حکومت (؟) په بلنه (؟) راغلي یو خو کله چې ترې وپوښتل شول: د کوم قانوني حکومت په بلنه؟ ځکه که امین راغوښتي وای نو امین خان دربا ندې واړه؟ او که ببرک دا کار کړی نو ببرک خو هغه وخت یو فراری ؤ او د هیڅ ترون کولو صلاحیت یې نه درلود؟ دوی بې ځوابه وو خو ببرک

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومیاشتې وروسته په سپین سترګه وویل: زه د امین تر مرګ څو میاشتې وړاندې کابل ته راغلی وم، له ګوند سره په تماس کې وم او د ګوند غړو دا فیصله (!) کړې ده ادادی د تجاوز له پاره یو داسې شېرې پرتوګ چې تر څو زیات یې هر څه ترې ښکاریږي!

تردې وړاندې روسانو خپل تر لاس لاندې د تره کی او امین ګوډاګی حکومتونه په افغانستان کې د عدل او نیاو سمبولونه بلل او د دوی ټول فجایع یې د «امپریالیزم تبلیغ» ګڼلې، خو دیوې نوې لوبې له پاره سکوت مات شو او د روس نوي ګوډاګي سترګې پټې او خوله خلاصه کړه، په دې غلط فکر چې ګویا ځان به په خلکو ومني د امین په افشاء کولو یې لاس پورې کړ او د روس د ټولو سپو خلقیانو د فجایعو نه یې داسې پرده پورته کړه:

« (حفیظ الله امین) چې د افغانستان استقلال له خارجي ارتجاع سره په سودا کې واچاوه او زموږ د زرهاؤ ملیونو سره سم ثروت یې چور او حیف او میل کړ، د افغاني غیورو او ننګیالو خلکو غیرت، شرف او ناموس یې تحقیر او توهین کړل؛ د تل له پاره زموږ د ګران هیواد د ژوند له صحنې نه ایسته کړای شو...»

ده په یوه بله غلامانه وینا کې وویل: «که ... د افغانستان د شجاع اردو فداکارۍ او د شوروي دوروری او بې شایبې مرستې نه وای نو د عوایه بریالی انقلاب به خپل نوی پړاو ته نه وی ننوتلی او نن به نه یوازې په افغانستان بلکه په منطقه کې یوه لویه تاریخي فاجعه منځ ته راغلې وه، دا دراماتیکه او لویه فاجعه د امین د باند په وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا د استخباراتي اداري سي . آی . اې ، د پیکن د رهبرۍ د توطیې ، د منطق د ارتجاع ، د سادات ، اسرائیلو او د نورو ارتجاعي ځواکونو سره په تړون او ګډون ، طرح شوې وه ، چې د هغې له مخې يې د افغانستان نیم اوسیدونکي له منځه وړل ، د هیواد خپلواکي ، ملي حاکمیت او ارضي تمامیت له منځه وړل کېده او حتی د ایران اسلامي نهضت چې د آیت الله امام خمیني په وسیله منځ ته راغلی ، کوتهل کېده او په سیمه کې ترچیلی نه لویه فاجعه پېښېدله (؟) » .

ده لکه شاه شجاع غونډې د روسانو د وحشي متجاوزو لښکرو په باب وویل : « د شوروی د وسله والو پوځ محدودې قطعې (؟) چې د افغانستان . . . . د دولت په قانوني غوښتنه (؟) د بهرنیو وسله والو تېریو د دفع او له منځه وړلو او زموږ د هېواد د خپلواکۍ د حاکمیت او خاورې تمامیت د ساتلو له پاره افغانستان ته راغلي دي . . . . تر هغه وخته به دلته پاتې شي چې د افغانستان نه د بهرنیو لمسونو ، لاس وهنو او تېریو کوچنۍ اغېزه ورکه او له منځه یووړل شي او ټولې بهرنۍ لمسونې ، لاسوهنې او تېري د بندولو له پاره ریښتینې او معتبر تضمین تأمین شي . »

ده په هغو لسهاوو زرو شهیدانو هم د مکر تمساحي اوښکې تویې کړې چې خلقیانو د روسانو په قوماندې او وسله شهیدان کړي وو ، د دوې فلقه (؟) يې واخیسته او په یوه وینا کې يې په پوره بې شرمۍ وویل : « . . . تر هر څه وړاندې اجازه راکړئ چې د افغانستان د دیموکراتیک (؟) جمهوري دولت او حکومت د سیاسي کرنلارې تر وړاندې کولو څخه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوند د مرکزي کمیټې . . . د انقلابي شورا او حکومت او زما ببرک کارمل له خوا چټلې ژوري خواشینۍ او لوي خواخوږۍ او درناوی . . .
د هغوی پایه او ښکو او په وینو ګډو او ښکو په مناسبت تاسو ته وړاندې کوم چې د حبس او زندان، جبري مهاجرت او تبعید، وحشیانه او غیر انساني زجر او شکنجې او زمونږ د لسهاؤ زرو میندو، پلرونو، ورونو، خویندو، لوڼو، زامنو، ماشومانو د دسته جمعي شهادت او وژنې له امله چې د حفیظ الله امین میرغضب له خوا او د دې انسان وژونکي جلاد په مستقیم امر را منځ ته شوي دي .» .
همدا راز لکه څنګه چې شاه شجاع خان د ملت ضد کانه همدا سې یوه وینا د ببرک له خولې هم و . . . په خواشینۍ سره باید ووایم چې سره له دې چې رهبري د کارګرې طبقې او ټولو زحمتکښانو په لاس کې د ه خو زمونږ د دولت د اداري ماشین لا تر اوسه تر ډېره حده د خلکو په ضد دی .»

پر افغانستان باندې د روسانو له دې تېري سره د اخل د ملت د نوی ولاړېدنې او پاڅون ضرورت نه ؤ، د افغانستان ټول ملت په تېر یوه نیم کال کې له خلقیانو سره د هیواد په بېلا بېلو برخو کې جنګېدلی ؤ، ځای په ځای یې د خلقیانو لوی - لوی پوځونه له منځه وړي او ډېره روسي وسلې یې تر لاسه کړې وه ؛ د کېرالې قتل عام، د هرات قتل عام، د ننګرهار او د مزار د دهدادي د فرقو د بالاحصار د قشلې او د ریشخور د عسکري قیامونو کوټل خلقیانو په وحشت سره تر سره کړي وو . د نورستان، کونړ، ځدرانو، وردکو، بامیانو او نورو ولایاتو سیمو قیامونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي وو او مجاهدین وسله په لاس په سنګرونو کې ناست وو؛
د روسانو تیري د جهاد ساحه نوره هم پراخه کړه ، د ۱۳۵۸ ش
(۱۹۸۰ ع) د دلوې په میاشت کې په هرات او کندهار کې ښاریان
راولاړ شول او په شپو- شپو یې د «الله اکبر» مقدس او
ملکوتي غږونه لوړ کړل او حکومتي تأسیساتو ته یې اور ورته کړ.
په کابل ښار کې هم د همدې کال د کب په دریمه نیټه له ټول ښا
نه د الله اکبر آسماني غږونه پورته شول د شیګر دي قیود یې
مات کړل ، د پولیسو له مامورینو نه یې وسلې تر لاسه کړې
او سهار د وخته په ټول ښار کې مظاهرې راووتې ، دوکانونه له یوه
سره وتړل شول ، د «الله اکبر» چیغې پورته شوې ، د روس مرده
باد ، ببرک مرده باد ، روس دې زموږ خاوره پرېږدي ! شعارونه
ورکړل شول ، دولتي ودانیو او موټرو ته اور واچول شو او روسانو
په ډېره وارخطایۍ ټانکونه راوایستل ، پر ځیانو د ځوانانو په شهیدانو لو
لاس پورې کړ ، الوتکو الوتنې پیل کړې او د ورځ ګردي قیود ولګېدل
چې هغې زندانونو خولې خلاصې کړې او په زرهاوو افغانان ور واچول شول
بندیان په شپو- شپو وږي وساتل شول ، په برقي ډنډو ووهل
شول او راز- راز زجرونه ورکړل شول خو د الله اکبر په ملکوتي
غږ پیل شوی قیام د ډېرې شپې دوام دار پاتې شو ؛ د ۱۳۵۹ کال -
(۱۹۸۰) په پسرلي کې د پوهنتون او لیسو ځوانو او هلکانو د روس په ضد
مظاهرې پیل کړې او د ګولیو په باران کې به ښار ته راوتل او د روس
په ضد به یې شعارونه ورکول . خصوصاً په ځوانو کې په زرهاوو ملالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځۍ ته شوې اوسيني يې ګوليو ته سپړ کړې، د هر ولمې او ځوې په نره شهيدان شول خو نهضت په هيا شتو - هياشتو غلي نشو، پراخ شو، وسيع شو، د افغانستان کوټ - کوټ سنګر - سنګر او پچې - پچې يې عسکر - عسکر شو؛ دا بريالی او قهرمانانه جهاد په نره دوام لري او دوام به کوي خصوصاً ورو ستۍ مياشتې د جهاد د بري يې ساري مياشتې دي او روس او د روس بچيان يې لکه موږک غونډې پچيلو عسکري قرارګاوو کې محصور کړي دي .

تردې وخته پورې د انګريزانو او روسانو لومړنيو تيريو د يونيم سل کلنې فاصلې سره - سره يو سبل ته سره ورته لاره وهلې خو د روسانو د تيري موده ولی اوږده شوه ؟ دا يوه مهمه پوښتنه ده او د اوږدېدلو عوامل يې هم ډېر دي .

ددې او هغې جهاد لوی توپير دادی چې هغه وخت د جهاد قايدان او مشران له کليو نه را ولاړ شول ، خلک يې تنظيم کړل او د جهاد د پيل په وخت کې يو په بل پسې کابل ته ورسېدل او هلته په عين حال کې چې د جهاد مشران وو د جبهو قوماندانان هم وو ، د هغو مشرانو ډېروالی د تشتت او تفرق له پاره نه بلکه ددې له پاره وو چې د يوه مشر په شهادت سره يې بل مشر ځای ډک کړي او د جهاد قوماندانې په لاس کې واخلي ، هغوې په دی فکر کې نه وو چې د شهيدانو له پاکو وينو نه د موټرو، ماڼيو او مرفه ژوند خاوندان شي بلکه هغوی ترنورو وړاندې سرونه قربانول ته وړاندې کړي وو ، د هغوې ترمنځ د دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نفاق او درز اچولو لاس کار نشوای کولای او ډېر ژر به یې د دښمن د سیسې په صادقانه ډول سره افشاء کولې او په کډه به یې د د سایسو او وسا وسو څخه نیوله. هغوی په مقدس قرآن ټینګ ایمان درلود، سربښندل ورته آسان وو څو په قرآن او سوګند نه درېدل ورته کمزورو له ایمانه تېرېدل ښکارېدل.

خو متأسفانه د جهاد داخوا بد له شوې ده، د جهاد مشران له افغانستان نه د باندې او د جهاد له سنګرو نه دومره لیرې دي چې حتیٰ د دوی غږ یې هم عوامو ته نه رسیږي، ددوی ډېرښت ددې له پاره نه دی چې د جهاد په صفونو کې ټینګښت راولي بلکه ددې له پاره دی چې د جهاد واحد صفونه په څو برخو وویشي او کله ـ کله ددې زمینه هم برابره کړي چې یوه مجاهده ډله د بلې مجاهدې ډلې غاړې ته ولوېږي، په خپل منځ کې سره وجنګیږي او اصلي دښمن ترې پاتې شي، همدا راز متأسفانه د جهاد مشران د امارتونو په القابو کې د پاچاهۍ کلتور په تر لاسه کولو بوخت دي او د هوټلو، ماڼیو، عیش، راحت او استراحت په لټه کې دي.

او هم متأسفانه دښمن د جهاد صفونو ته خپل اوږد او ناولی لاس را غزولی او په تفتین بوخت دي.

خو له دې مایوس کوونکو عواملو سره ـ سره د هیواد په ګوټ ـ ګوټ کې د جهاد ګړندیتوب موږ ډاډه کوي چې دا مقدس جهاد هم د بري پولې ته لنډ شوی او د عیش او نوش کې مصروف مشرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځای به د جهاد مشري بیا هم هغو اتلو او قهرمانو قوماندانانو ته انتقالیږي چې په سخت ژمي ، لوږو، عزونو او هوارو د بنتوکې په جهاد بوخت دي او د ګولیو په باران کې د دښمن په لوري په وړاندې ورځي او سنګرونه یې یو پر بل پسې له منځه وړي .

هو زه باوري یم لکه څرنګه چې انګریزانو شرمید ونکې ماته خوړلې همدا سې شرمیدونکې ماتې ته روسان هم ور لنډ شوي او د تیري وحشیانه څپې یې ډیر ژر په تېرېدو دي .

ومن الله التوفیق وعلیه التکلان .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریمه برخه :

# دبالاحصار ننداره

سُرخروي يې تل په وينو دښمن ده
د کابُل بالاحصار کې دا اثر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل د ښار دروازې غزه د تاریخي لړۍ په ختیځه
پېلامه کې د بالاحصار پر تمینه کلا دنګه غاړه ولاړه وه، تول
کابل یې ترنظر لاندې و، د کابل ښار ساتنې د پاخه سنګر
په توګه یې په سلهاو کلونه خپله تاریخي وظیفه سرته رسوله
او افغاني عسکرو ته یې د تل له پاره په خپل زړه کې ځای
ورکړی و.
د ۱۸۳۹ع کال د اوړي یوه ډېره تو ده او دوپ ورځ وه،
په اصطلاح پېرېانو تنورونه اچولي وو، د خوپ له لاسه
هوا توره ښکاریدله او درنا په زړه کې یې یوه توره تیاره خوره وله،
په هداسې یوه ورځ د بالاحصار دروازې پر انستلې شوې، د افغاني
عسکرو پر ځای ناآشنا پوځیان ورته را ننوتل چې سر ځوځونه،
سره ویښته او شنې وچې - وچې سترګې یې درلودې، دوی
راغلل د افغاني عسکرو مورچې یې ونیولې او د کابل ښار
څارنه یې له دې پاخه سنګرنه پیل کړه؛ د ا دانګریزانو
د هغه شلورپنځوس زریز پوځ له دلې ټخته ووچې ظاهراً
افغانستان ته د « دوست »(؟) لښکر په توګه د فرارې
شاه شجاع له خوا رابلل(۱) شوي وو حو په حقیقت کې شاه شجاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی له خوا افغانستان ته راوستل شوی و .

بالاحصار خپلو نويو ميلمنو ته حيران ـ حيران کتل چې ددې حصار له لمنې سره د توپونو په ډزو سره پاچايي سلامي وشوه او په دې وسيله په کابل کې د شاه شجاع خپلواکه حکومت اعلان شو ، پاچا اعلان صادر کړ چې : زه په خپل موروثي تخت کېنيناستم او د دوستي قواوې (٩) زما د قانوني حق د راسپارلو له پاره راسره راغلي دي او کله چې زما تخت ټينګ او مخالفين وځپل شي بيا به دا دوستي قواوې بېرته خپل لوی هيواد ته ستنېږي ! .

خو بالاحصار په ړندو سترګو کتل چې ورته راغلي شين سترګي ميلمنه د کور په هر څه واکدار ي کوي او د کور د ميرمنې په توګه ځان ښيي او حتی د دې زړور (٩) پاچا د خولې خبرې هم د همدې له خوا ديکتې کېږي ؛ دی چوپ او غلی و خو دا راز په دې ښاورېتو ديوالونو کې محصور پاتې نه شو ، خور شو او په ټول هيواد کې افشاء ! .

د افغانستان ميړنې او په خپلواکۍ مين ملت د خپل کور غاصب ته له پخوا نه بد ورکړی و او س غوسه او قهرجن را پاشېد ، د هيواد په ګوټ ـ ګوټ کې ورې ـ ورې غونډې وکړې ، ورې غونډې پسې لويې شوې توحيد نشوې ، سر غبرګې شوې ، يو لاس شوې ، تر کابل را چاپېر شوې ، د بالاحصار د ټينګو ديوالونو غونډې يې د مقاومت انساني ديوالونه جوړ کړل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغونډ شول او د ۱۸۴۱ ع کال د مني د نومبر د دوهمې نېټې د سهار په خړه کې یې د قرآن کریم په محکمې رسۍ باندې د ځنې تړې په کولوسره پاڅون وکړ او قیام او د بالاحصار لمنې ته یې لاس وروړ کړ، انګرېزانو یې همغلته ایسار کړل، په تش لاسو خود مقاومت په پولادینو کامونو په وړاندې ودرغلل، شهیدان یې ورکړل او قربانیان! او له همدې شهیدانو نه یې زینې جوړې کړې، د بالاحصار لوړو دیوالونو ته پرې وروختل، تر یې ورواوښتل انګرېزان یې د اور په لمبو کې را ښکېل کړل، د بالاحصار لمن یې د دوی په وینو تکه سره کړه، او د دې تاریخي حصار پاکه غېږ یې د دوی له ناپاکو وجودونو څخه پاکه کړه.

بالاحصار ننداره کوله چې په فریب راغلی دښمن د تورې په زور له بالاحصار څخه او بیا له افغانستان څخه وایستل شو او چا چې دا دوستان (؟) رابللي وو د هغه وینې یې هم له دوی سره ګډې کړې.

ډېر کلونه وروسته هغه شین سترګي میلمانه یو ځل بیا راغلل، د بالاحصار لوړو ته یې پورته نشوې کتلی او د خپل قهر سره ولو له پاره یې د اور لمبې ورته کړې. پوځ او سرلوړې بالاحصار د اور خوراک شو خو دښمن ته یې سر ټیټ نه کړ او په کنډ کپړ څخه په خپل ځای سرلوړې پاتې شو.

کلونه تېر شول او پېړۍ واوښتې بالاحصار هغه اسې سرلوړي شو وتد تیراوه، د خپل وروسته پاتې هیواد ننداره یې کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د خپلو غیورو بچو میړانې او غیرت یې زړه تکیه کړې وه .

د ۱۹۷۹ ع کال د وروستي میاشتې وروستۍ شپې ورځې او دژمي ډیره یخه او خړه پړه ورځ وه ، یخ په رګونو کې وینه وچوله ، د دسمبر ۲۷ ورځ وه چې یوځل بیا د بالاحصار دروازې پرانستلې شوې ، د افغاني عسکرو په ځای بیا هم نا اشنا پوځیان ورته راننوتل چې ددوی هم سر محزونه ، سره وینبته او شنې سترګې وې خو فرق دومره وچې هغه نا آشنا میلمانه د عربي ښکیلاک ځري وو چې د ختیځ له لارې هیواد ته راننوتي وو او دا د شرقي ښکیلاک بچوړي وو چې د شمال له لارې یې هیواد ته ځنه کړې وه ؛ دوې هم د افغاني عسکرو مورچې ونیولې او د کابل ښار ځارنه یې له دې پاخه سنګرونه پیل کړه ، هو ! دا د روس د هغه سل زر کسیز پوځ له ډلې ځنه وه چې بیا هم افغانستان ته د دوست (؟) لښکر په توګه د فراري ببرک له خوا رابلل (؟) شوي وو خو په حقیقت کې ببرک دوی افغانستان ته راوستلې وو -

بالاحصار بیا هم خپلو نویو میلمنو ته حیران - حیران کتل چې د بالاحصار له لوی لوړ سپیکرونه د ببرک خپلواک (؟) حکومت اعلان شو ، ببرک وویل چې زه د تخت د مستحق په توګه رئیس جمهور شوم او دوستي قواوې (؟) د افغانستان د ساتلو له پاره راسره راغلې او کله چې مخالفین وځپل شي او د امپریالیزم لاس غوڅ ته ختم شي بیا به دا دوستي قواوې بېرته خپل لوی ... او سوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوست (؟). هیواد ته ستنیږي .

بالاحصار بیا هم کتل چې داخل راغلي شین سترګي مېلمنه م دکورد مېرمني په توګه اختیارات په لاس کې لري او ببرک دیوه لوډسپیکر په حیث غږ مبینږي ، قلقلی کوي او کومی شلوي ، دی بیا هم غلی او چوپ ؤ خو په شااوخوا کې یې په دې ساړه ژمي کې تاوده سنګرونه جوړېدل او فقط دوې میاشتې وروسته د حوت په دریمه نېټه داسې هم وشول چې یوځل بیا لکه یونیم سل کاله وړاندې د کابل ښار د «الله اکبر» ملکوتي غږونو په سر واخیست او د هیواد خلک په ځېل بې دینه دښمن پسې په تش لاس را پاڅېدل او د دښمن له ټانکونو سره یې غېږې ورکړې ، دا ډول ولاړېدنې یې بیا - بیا ولیدې او ډېر ځل د تورو شپو په زړه کې داسې هم وشول چې د هیواد غیرتي زامنو بیا هم د بالاحصار لمنه ونیوه او د بالاحصار دیوالونه یې د دښمن په وینو ورنګول .

بالاحصار هره شپه او ورځ د همداسې پېښو تماشاچي دی خو د دښمن د ډېرو وینو له پاره تنده ورځ په ورځ لا زیاتیږي او داده دی چې هغه ورځ به هم ډېر ژر را ورسیږي چې دا شین سترګي مېلمانه یوځل بیا په دسته جمعي ډول دده په پښو کې قرباني شي .

نه یو سهار د بالاحصار د شرقي دروازې په لمنه کې تېرېدلم چې ور ومې کتل په دروازه کې روسي عسکرو پېره کوله ، په سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې تیاره راغله خو چې لږ وروسته ښه ځير شوم د دې دروازې هغه د برين زمريان چې د افغاني عسکرو تر څنګ به يې سرونه ښکاره بدل هم له منځه وړل شوي وو ، ما په دې د برينو زمرو پسې د تأسف سر خوځاوه چې يو ناڅاپه مې د « شهداى صالحين » په لور د بالاحصار په لوړ اوس لوړي ديوال چې زوړ شوى ؤ خو نسکور شوى نه ؤ ، سترګې ولګيدې ، بالاحصار ننداره کوله ، د لمر زرينو وړانګو يې د منځ وړې وړې شګې ځلولې او په دې ځلا کې يې د حال په ژبه ويل :

« خير دى که دښمنانو زما د لمنې د برين زمريان له منځه يوړل خو له ما نه تاو راتاو د وطن زمري بچيان ميړني مقابلې ته چمتو دي او ما په دې سترګو ليدلي چې داخل به هم دا زمريان داسې بريالى کيږى لکه څو ځله چې د خپلو قوي دښمنانو په مقابل کې بريالى شوى او په تش لاس يې خپل زوروړ دښمن زما په پښو کې قرباني کړي دى ! » .

پښتو ته نه ځي هسک غاړه به اوسيږي
زمانه ده ، حادثې دي ، زموږ سر دى

( پاى )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ضمیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ليکوال نور چاپي آثار

۱- « پوهنه او پښتو ادب » ( د علم او پوهې په ارزښت باندې د پښتو شاعرانو نظريې ) ؛ په « پوهنه » مجله کې پرله پسې خپور شوی دی ؛ ۱۳۴۱ ش / ۱۹۶۲ ع .

۲- « ولی » ( د دې کلمې پر ۳۳ معناوو څېړنه ) ؛ په پوهنه کې پرله پسې خپور شوی ؛ ۱۳۴۳ ش / ۱۹۶۴ ع .

۳- « سکروټې » ( د انتقادي شعرونو مجموعه ) ؛ ۱۳۴۵ ش/۱۹۶۶ ع.

۴- « په پښتو نظم کې د تاريخ استخراج » ( څېړنه ) ، دا رساله لومړی په « آريانا » مجله او بيا په « کابل » مجله کې خپره شوې ده ؛ ۱۳۴۵ ش / ۱۹۶۶ ع .

۵- « برېښ » ( انتقادي او انقلابي شعرونه ) ؛ د شهيد پاينې حنيفي له « سپېده » نومې شعرونو سره يوځای ؛ ۱۳۴۶ ش/۱۹۶۷ ع .

۶- « د هوتکو نارې » ( د شفاهي منظوم تاريخ يوه مجموعه ) ، ناشر : « پښتون کتاب فروشي » ؛ ۱۳۴۹ ش / ۱۹۷۰ ع .

۷- « د خلکو سندرې » ( د پښتو اولسي ادب د ډولونو معرفي او تحليل ) ، ناشر : « د افغانستان د تاريخ او ادب ټولنه » ؛ ۱۳۴۹ ش / ۱۹۷۰ ع .

۸- « د پښتو پخوانۍ تذکرې » ( د پښتو تذکرو تذکره ) ؛ ناشر :

(c) ketabton.com: The Digital Library

« د افغانستان د تاریخ او ادب ټولنه »؛ ۱۳۵۰ ش / ۱۹۷۱ ع .

۹ - « د افغانستان لومړنۍ کاغذي پیسې »، (په افغانستان کې د کاغذی پیسو تاریخچه)؛ په « آریانا » مجله کې خپره شوې، ۱۳۵۰ ش / ۱۹۷۱ ع .

۱۰ - « د سقراط محاکمه » (د افلاطون لیکنه)؛ په پښتو ژباړه؛ د « زیري » په جریده کې پرله پسې خپور شوی، ۱۳۵۰ ش / ۱۹۷۱ ع کال .

۱۱ - « سقراط په زندان کې » (د افلاطون لیکنه)؛ په پښتو ژباړه؛ د « زیري » په جریده کې پرله پسې خپور شوی، ۱۳۵۱ ش / ۱۹۷۲ ع کال .

۱۲ - « د تاریخ ټولنې کتابونه » (اختصاصي ببلیوګرافي)؛ ناشر: « د افغانستان د تاریخ او ادب ټولنه »؛ ۱۳۵۱ ش / ۱۹۷۲ ع .

۱۳ - « د جمهوریت وړمې » (د جمهوریت په باب د ویلو شعرونو مجموعه)؛ ناشر: « پښتو ټولنه » د « کابل مجلې » اداره؛ ۱۳۵۲ ش / ۱۹۷۳ ع .

۱۴ - « ادبي ستوري » - لومړی ټوک - (د لرغونو شاعرانو تذکره)؛ ناشر: « پښتو ټولنه »؛ ۱۳۵۳ ش / ۱۹۷۴ ع .

۱۵ - « پښتو پانګه » - لومړی ټوک (کتاب پېژندنه)؛ ناشر: « پښتو ټولنه »، ۱۳۵۴ ش / ۱۹۷۵ ع .

۱۶ - « تېر یادونه » (د ملي ویاړنو په یاد کې ویلي شعرونه)؛ ناشر: « د افغانستان د تاریخ او ادب ټولنه »؛ ۱۳۵۴ / ۱۹۷۵ ع .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷ - « د روښان یاد » ( د بایزید روښان د بین المللی - سمینارد مقالو مجموعه ) - ټولونه - ناشر: « پښتو ټولنه »؛ ۱۳۵۵ش/ ۱۹۷۶ ع .

۱۸ - « روښانی لیکنې » ( د روښانیانو د آثار و معرفي )، ناشر: لومړی ځل په « آریانا » مجله او بیا په « روښان یاد » کې خپره شوې؛ ۱۳۵۵ش/ ۱۹۷۶ ع .

۱۹ - « خواجه عبدالله انصاري اووده مناجاتونه » ( د خواجه کتابښود او په مسجع نثر دده د مناجاتونو ژباړه )؛ ناشر : « د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت »؛ ۱۳۵۵ش/۱۹۷۶ع .

۲۰ - « پښتو د پېړیو په پوړیو کې » ( د پښتو اد ب یو لنډ جاج )؛ دا اثر لومړی د ۱۳۵۵ کال په « افغانستان کالنۍ » کې او بیا په « نقش فرهنگی افغانستان » نومی کتاب کې خپور شوی؛ ۱۳۵۵ش - ۱۹۷۶ ع .

۲۱ - « فولکلور د علم مور » ( پر علمی پرمختګونو باندې د فولکلوری فکر اثر )؛ دا کتاب د « فولکلور » په مجله کې پرله پسې خپور شوی ، ۱۳۵۵ - ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۶ - ۱۹۷۷ ع .

۲۲ - « پښتو ادبی ټولنې » ( د ادبي ټولنو او مرکنو ونوېش ندکلوی )؛ په « پلوشه » مجله کې پرله پسې خپره شوې ، ۱۳۵۵ - ۱۳۵۷ ش کلونو پوری / ۷۶ - ۱۹۷۸ ع .

۲۳ - « ای هیوادہ! ای هیواده! » ( د هیواد په ستاینه کې شعر وښه )؛ ناشر: پښتو ټولنه ، د « زيری » جریدې اداره؛ ۱۳۵۶ش/۱۹۷۷ع .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴ - « پښتو خپرونې » (د پښتو جریدو، ورځپاڼو او مجلو پېژندګلوي)؛ ناشر: « د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت»، ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ع .

۲۵ - « په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه »؛ ترجمه او تألیف؛ ناشر: « د تاریخ او ادب ټولنه »؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع .
( د دا اثر یوازې سل نسخې نشر او پاتې د خلقیانو په وحشي دوره کې په مطبعه کې سانسور او د اور خوراک شو ) .

۲۶ - « پښتو کتاب ښود » ( د پښتو د یونیم زر ټوکو چاپي کتابونو فهرست )؛ ناشر: « د بیهقي کتاب خپرولو موسسه؛ ۱۳۵۶ ش / ۱۹۷۷ع .

۲۷ - « معرفة الافغانی » ( د پښتو لومړنی ژبنی کتاب، د پیر محمد کاکړ تألیف)؛ سریزه او د متن برابرول؛ ناشر: د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د ننګرهار مجلې مدیریت؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ع.

۲۸ - « د رحمان بابا دیوان »؛ د انتقادي متن مقدمه، د متن مرتب: محمد عارف غروال؛ ناشر: « پښتو ټولنه »؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ع.

۲۹ - « د پښتو نخواد شعر هار و بهار » ( د فرانسوي مستشرق دارمستتر ټولونه )؛ د مقدمو پښتو ترجمه او چاپ ته چمتوکول؛ ناشر: پښتو ټولنه؛ ۱۳۵۶ ش / ۱۹۷۷ع .

۳۰ - « پښتو پانګه » ( دوهم ټوک )- د پښتو آثارو ببلیوګرافي؛ ناشر: پښتو ټولنه، ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع .

۳۱ - « د سره غره ګلونه » ( د پښتو ځلورو تنو لرغونو شاعرانو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرحه تذکره )، د ښاغلي زلمی هیوادمل په ملتیا - لومړی د «زیری» د ۱۳۵۷ کال په کالنۍ کې او بیا د امان کتاب چاپولو موسسې ځانګړې نشر کړه؛ ۱۳۵۷ ش / ۱۹۷۸ ع .

۳۲ - « دارالامان - ښار او ماڼۍ » ( د دارالامان د جوړېد و - تاریخچه ) ؛ په « آریانا » مجله کې خپور شوی ، ۱۳۵۷ ش/ ۱۹۷۸ع .

۳۳ - « څوب » (د جهاد د شعرونو مجموعه ) ، د سمون په مستعار نامه - ناشر : امان کتاب ؛ ۱۳۵۸ ش / ۱۹۷۹ ع؛ پېښور .

۳۴ - « ناسیونالیزم او ملی مسایل » ( د سلو پوښتنو او ځوابونو په بڼه د افغانستان د تولني ، ملی هیلو او اړتیاوو او مقدس جهاد ساده سیاسي څېړنه ) - د سمون په مستعار نامه - ناشر: د «اسد» اداره ؛ ۱۳۵۸ ش/ ۱۹۷۹ع ، پېښور .

۳۵ - « ادبی ستوري » - دوهم ټوک - ناشر: د هنر او کلتور ریاست ۱۳۵۹ ش / ۱۹۸۰ع .

۳۶ - « ادبي ستوري » - دریم ټوک - په خواره ډول د «زیری» په جریده او «کابل» مجله کې خپور شوی ؛ ۱۳۵۹ - ۱۳۶۰ ش/ ۱۹۸۰ - ۱۹۸۱ ع .

۳۷ - « د واصل روښاني الفنامې » ؛ (مقدمه - تصحیح او لغتنامه)؛ په « کابل مجله کې خپره شوې ؛ ۱۳۶۰ هـ ش / ۱۹۸۱ع .

۳۸ - « د پښتونخوا ادب » ( د پښتو د معاصر ادب د ولونه او اصناف څېړې ) ؛ ناشر د کابل پوهنتون ، د ا اثر د افغان یاد نومې مجموعه کې خپور شوی دی) ؛ ۱۳۶۰ ش / ۱۹۸۱ ع .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۹ - «ژب پالنه» (پښتو ژبې د پالنې او روزنې تاریخ)؛
ناشر: د افغانستان د علومو اکاډیمي؛ ۱۳۶۰ ش / ۱۹۸۱ ع .

۴۰ - «ناوې پښه اخله سپرېږه!» (د پښتنې ودونو پر دودونو یوه څېړنه)؛ دا رساله په راډیو افغانستان کې پر له پسې یو کال خپره شوې ده؛ ۱۳۶۰ ش / ۱۹۸۱ ع .

۴۱ - «د نیموشپو سندرې خوندکړي» (د پښتو پر اولسي ادب یوه نوې څېړنه)؛ ددې اثر یوه برخه د ښاغلي غروال د «غرنۍ سندرې» کتاب د مقدمې په توګه خپره شوې او انګریزي ترجمه یې د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز په «پښتو» مجله کې پر له پسې نشر شوې ده؛ ۱۳۶۰ ش / ۱۹۸۱ ع .

۴۲ - «زرینې ځانګې» (د پښتو د تخلیقي ادب دولونه)؛ لومړۍ د زیرى د ۱۳۶۰ کال په ګالڼو او بیا ځانګړې خپره شوې دی؛ ۱۳۶۰ ش / ۱۹۸۱ ع .

۴۳ - «زنځیرونه» (د خوشال خان ختک په یوه اثر تحقیق)؛ دا اثر یوه برخه کابل مجلې خپره کړې؛ ۱۳۶۱ ش / ۱۹۸۲ ع .

۴۴ - «پښتو ډرامه» (د پښتو ډرامې تاریخ)؛ ناشر: د افغانستان د علومو اکاډیمي؛ ۱۳۶۱ ش / ۱۹۸۲ ع .

۴۵ - «په افغانستان کې د سید جمال الدین افغان خدمتونه» ناشر: سنټرل ایشیا، پېښور پوهنتون ۱۳۶۲ ش / ۱۹۸۳ ع .

۴۶ - «اورونه او ویرونه» (د انقلاب د دورې شعرونه) ناشر: امان کتاب، ۱۳۶۳ ش / ۱۹۸۴ ع، پېښور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۷ ـ « د شمال له خوا شمال دی » (شعرونه)، ناشر: امان کتاب، ۱۳۶۳ ش / ۱۹۸۴ ع، پېښور

۴۸ ـ « زندان » (شعرونه)، ناشر: امان کتاب، ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع

۴۹ ـ « د وينوبهير » (شعرونه)؛ ناشر: امان کتاب ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع

۵۰ ـ « انجام » (شعرونه)؛ امان کتاب، ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع .

۵۱ ـ « تصوير » (شعرونه)؛ امان کتاب، ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع .

۵۲ - ورک زوی څنګه پيدا شو ؟

د اخوند احمدرح تأليف، مقدمه اوسمون، په ۱۳۶۴ کال د

امان کتاب خپرونه .

۵۳ ـ حديث څون، د استاد پژواک څو جهادی شعرونه،

د محمد روحانی ميهنی ټولونه، سريزه او ژوند ليک، امان کتاب ۱۳۶۴ش.

۵۴ ـ فالنامه، د خوشال خان ختک، سريزه ـ سمون او

لغتنامه د پېښور پښتو اکيډمۍ خپرونه، ۱۹۸۵ع کال .

**يادونه:** د « ۸ » نومره کتاب « پښتو پخوانۍ تذکرې » پاتې لړۍ د

« پښتو اوسنۍ تذکرې » په نامه پروفيسور ولی محمد خان سيال کاکړ

کښلې چې د چاپ له پاره چمتوده، همدا راز د « ۲۲ » نومره کتاب

« د پښتو ادبي تهولنې » د دوهم ټوک ليکلو له پاره ځوان ليکوال

او شاعر ښاغلی شيخ نورعلی « نور » اقدام کړی او انشاء الله

ژر به چاپ ته چمتوشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

B
4·36
RAF
1611

امان

د امان کتاب له چپرونو څخه

پېښور

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**